ASSA ABLOY

# د چلند اصول

Experience a safer
and more open world

## لنډه نسخه



# د چلند اصول

**د چلند د اصولو** دغه نسخه د لچند اصولو د بشپړې نسخې يوه خلاصه ده. ټولو کارکوونکو ته ويشل کيږي. د لچند د اصولو پوره نسخه کومه چې ټولو منيجرانو او کارکوونکو ته چې د اغستلو، خرڅولو، ايچ آرمالې/محاسبوي، د يونيو نمايندګانو او نور کيټيګريانو برخي کښي کار کوي، ورکولے کيږي. څرنګه چې د دغه برخې له خوا فيصلے کيږي، د ټولو ملازمينو دپاره هم موجود وي او که ضرورت وي نو د تشريح دپاره رجوع هم کولے شي. د لچند د اصولو لنډه او پوره نسخې دواړه په مخفتلو ژبو کښې موجود دي، د آسا ابلوي ASSA ABLOY په انترانيټ د ايچ آر لاندې په دې ادرس کتل کيدی شي *www.assaabloy.com/codeofconduct* .

**ASSA ABLOY په ذمه وار** ټولنيزې او اخلاقي رويې او مهدارنګه د ټولې نړی په سطحه چې کوم کارکوونکي د کمپنی دپاره خدمت کوي، د غهوی په ذمه واری يقين لري. مرکزي قدرونه، اختيار ورکول، نوښت، او ايمانداري زمونږ په کارونو او د ورځني معاملاتو په فيصلو کښې لارښودنه کوي. همدارنګه ASSA ABLOY او د غهي کارکوونکي د ټولو حصه دارانو دپاره فرض لري چې د ايماندارانه چلند عيار او ښه معاملات وکړي. دا مغه بنياد او وجه ده د کوم دپاره چې ASSA ABLOYد لچند اصول جوړ کړي دي. نو ځکه د ټولو کارکوونکو نه دا ممته کيږي چې زمونږ د چلند اصولو ته غاړه کيږدي.

**د چلند اصول په چا لاګو کیږي؟**

د چلند اصول زمونږ په ټولو کار کوونکو لاګو کیږي۔
ASSA ABLOY د کاروباري ملګرو د چلند اصول هم لري چې زمونږ په ټول کاروباري ملګرو لاګو کیږې کوم چې ASSA ABLOY ته پیداوار یا خدمتونه وړاندې کوي، یا هغه کسانو چې د ASSA ABLOY دپاره په کار اخیستل شوي وي یا د هغو په ځاے کار کوي، د مثال په طور مال رسوونکي (او فرعي ټیکه داران که چېرې د ASSA ABLOY سره د وصلېدو په دوران کښې استعمالیږې) مشاورین، مال رسوونکي، ایجنټان او نور نماینده ګان .

**قانوني موافقت**


ASSA ABLOY چې په کومو ملکونو کښې کار کوي د هغو د قوانینو او قواعدو احترام کوي. د چلند اصول قوانین نه بدلوي او که چیري دواړه د یو بل سره اختلاف لري نو قوانینو ته به اولوالے ورکولے کیږي. که چیري د چلند اصول د موجوده قوانینو نه لوړ معیارونه لري نو بیا به اپوټه وي یعنې د چلند اصول به لاګو کیږي. د چلند اصول په انګریزۍ ژبه کښې د اعتبار وړ دي. چیرته چې د دې سند د مختلف ژبو نسخې موجود وي نو دا ټول به یوازې د ترجمې په توګه ګڼل کیږي.

**اندېښنې ښکاره کول**

که چیري یو کارکوونکي کومه اندېښنه لري یا غواړي شکایت وکړي یا د اصول ماتولو رپورټ ورکړي، خپل نزدې افسر، د ځایي انتظامیه نماینده یا د چلند د اصولو د مسلو نزدې ذمه وار کس ته خبر ورکول پکار دي. که چیري یو کارکوونکې دپاره دا مشکل وي چې په ځایي توګه دغه مسله هواره کړي، د ASSA ABLOY مرکزي دفتر سره رابطه کېدی شي. په ضمیمه I کښې ورکړل شوی فارم هم استعمالېدلی شي. د کارکوونکو معلومات به خوندي ساتلی کیږي او ASSA ABLOY د هغه کارکونکوی، چې په ښه نیت سره د چلند د اصولو د خلاف ورزۍ رپورټ وړاندې کوي، خلاف د بدله اخیستلو دپاره هیڅ برداشت نه لري.

**عملي کول او څارنه**

ASSA ABLOY د چلند د اصولو عملي کولو څارنه کوي. د سرغړونو یا تجاوز سره به زر تر زره معامله کیږي.



سټاک هوم، فبروري 4, 2019

نیکو ډیلووکس، صدر او سي اي او

# 1. د تجارت اخلاق او اصول

## 1.1 عمومي

ASSA ABLOY چې په کومو ملکونو کښې کار کوي د هغو د قوانینو او قواعدو احترام کوي او غواړي چې کار کوونکي یې هم دغسې وکړي. ASSA ABLOY هیڅ ډول د بې ایمانۍ کارونه، په شمول د رشوت، د ګټو ټکر، دهوکه، شوکه، خرد برد او غیر قانوني رشوتونه او دغه ډول کارونه نه قبلوي.

د کاروبار اخلاقي اصولو په هکله نوره لار ښودنه او تفصیل د موافقت برخې او د معلوماتو د حفاظت څانګې لاندې د ASSA ABLOY په انټرنیټ موندلی شي.

## 1.2 حکومتي تفتیش

ASSA ABLOY د هر ډول مناسب حکومتي تفتیش سره تعاون کوي.

## 1.3 سیالي او د ګټو ضد قونین

ASSA ABLOY د مقابلې خلاف تړونونو یا کارونو کښې نه شریک کیږي. د باور ضد او مقابلې قوانین په هر ملک کښې مختلف وي خو اصلي اصول یو شان وي. د چلند دا اصول دغه په ګوته کوي، او لا نورې لارښووني او تفصیل د موافقت برخې لاندې د ASSA ABLOY په انټرانیټ موندلی شي.

د ASSA ABLOY کارکوونکو دپاره لازم دي چې د حقيقي يا امکاني مقابله کوونکو سره د غېر مسابقتي توافق يا شريک کار کولو، شريکي معاهدې او دغه رنګه بل ډول کار نه ځان وساتي. همدرانګه د مقابله کوونکو او امکاني مقابله کوونکو سره د مسابقتي ډول حساس معلوماتو تبادله په ډېرو قانوني حلقو کښې غېر قانوني دي. د تجارتي تحاديې په غونډو کښې د ګډون کولو په وخت لازم دي خاص خيال وساتل شي.

کار کوونکو دپاره لازم دي چې د کاروباري پارټنرانو سره د بيا خرڅولو په نرخ اتفاق ونکړي يا ښکاره نکړي چې کاروباري ملګري به د ASSA ABLOY د توليداتو کم نه کم نرخ ادا کړي. د ASSA ABLOY د مقابلې او باور ضد موافقت پروګرام (چې د ASSA ABLOY د انټرنيټ د موافقت برخې لاندې دی) د ګاهک او کاروباري ملګرو سره د هغه نور تعلق معلومات هم ورکوي کوم چې غېر قانوني ګڼل کيږي.

### 1.4 د ډېټا يا معلوماتو حفاظت

ASSA ABLOY د شخصي معلوماتو سره د ذمه واری، د باور وړ او موافقت په انداز معامله کوي. موافقت ته وده ورکولو دپاره، ASSA ABLOY يو عالمي ASSA ABLOY د معلوماتو د حفاظت د موافقت پروګرام ("DPCP") اختيار کړی دی چې بنياد يې په عالمي توګه د پېژندل شوي معلوماتو د حفاظت په اصولو دی. د ASSA ABLOY کار کوونکي به خامخا د DPCP او همدارنګه د ملکي قانون سره موافقت کوي کله چې معلومات پروسس کوي.

د DPCP پالیسیاني او تګلارې د ASSA ABLOY په انټرانیټ شتون لري او د ASSA ABLOY د کار کوونکو دپاره موجود دي.

**د معلوماتو د حفاظت عالمي اصول**

د معلوماتو د حفاظت عالمي اصول څرنګه چې په DPCP کښې برابر شوي دي به استعمالیږې کله چې ASSA ABLOY معلومات پروسس کوي. ټول پروسسنګ به اصولي وي او د شخصي معلوماتو استعمال به د مخصوص، ښکاره او قانوني کاروباري مقاصدو دپاره کیږي.

شخصي معلومات به مناسب، صحیح، تازه، د ضرورت مطابق وي او د پروسسنګ د مقصد د مودې نه زیات وخت دپاره به نه ساتلی کیږې. مناسب حفاظت او محرمیت به یقیني کیږي.

**د پروسسنګ دلیل**

د ASSA ABLOY له خوا د معلوماتو پروسس کولو نه مخکښې، مناسب دلیل به خامخه په ګوته کیږي او لیکلی کیږي. د ASSA ABLOY له خوا د شخصي معلوماتو د پروسس کولو دپاره څلور لازمي وجې دي: قانوني فرض؛ د یو کس سره د کار قرارداد؛ قانوني کاروباري فایدې؛ او رضا.

**شفافیت او د اشخاصو حقونه**

د مناسب او شفاف پروسسنګ یقیني کولو دپاره به ASSA ABLOY اشخاصو ته خبر ورکوي کله چې د هغوی شخصي معلومات پروسس کوي. په صفا او آسانه ژبه کښې به اشخاصو ته خبر ورکولی کیږي، د مثال په طور، د پروسس کولو مقصد، قانوني اساس یا قانوني حلقه، د ساتلو موده، د ذمه وار انټرپرایز شناخت او د دغه کس د لاګو کېدو وړ حقونه.

د شخصي معلوماتو د خاوندانو له خوا یا د هغوی دپاره د هغه شخصي معلوماتو غوښتل چې ASSA ABLOY یې ذمه وار وي، به خامخه د دغه رنګه غوښتنو سره معامله کولو ذمه وار کس ته زر تر زره لیږلی کیږي.

**د معلوماتو د پروسسنګ قرارداد**

ASSA ABLOY به خامخا په لیکلي شکل کښې قراردادونه لري چې د شخصي معلوماتو د پروسس کولو په حقله د دواړه ډلو د فرائضو تعریف کوي، قطعه نظر د دې نه چې ASSA ABLOY په خپله خدمتونه اخلي یا د سپلایر په توګه کار کوي چې د یو بل انټرپرایز په ځای پروسسنګ کوي.

**د پروسسنګ د افعالو ریکارډ**

د ASSA ABLOY کمپنیانو دپاره لازمي دي چې د معلوماتو د پروسس کولو د ټولو افعالو ریکارډ وساتي.

**/د شخصي معلوماتو حفاظت**

د معلوماتو پروسس کولو سره تړلي خطرې د درجې په اساس، ASSA ABLOY به ټیکنیکل او تنظیمي اقدامات لاګو کوي چې د حفاظت مناسب درجه یقیني کړي. په دې کښې انکریپشن، بې نومه کول او محرمیت یقیني کول شامل دي.

**د معلوماتو سره معامله کولو سرغړونه کول**

د شخصي معلوماتو معلومه شوې یا شکمنې سرغړونې رپورټ به د حادثې د کنټرولولو، د معلوماتو د ارزونې او خبرتیا ورکولو دپاره زر تر زره ورکولی کیږي.

**د شخصې معلوماتو انتقالول**

د ملک نه بهر د شخصي معلوماتو انتقالول کېدی شي محدود شي یا د ملکي قانون له مخې منع کړے شي. د سرچینې د ملک نه د شخصي معلوماتو انتقالولو نه مخکښې، ASSA ABLOY به په لیکلي شکل کښې د شخصې معلوماتو انتقالولو قانوني اساس لري.

## 1.5 انټي کرپشن

ASSA ABLOY هيڅ ډول کرپشن نه قبلوي. د دې معنا دا ده چې ASSA ABLOY خپل کار کوونکي د وړاندېز کولو يا قبلولو، وعدې، پېسې ورکولو، يا کوم کس ته قيمتي ډالۍ يا بل شی ورکولو، د دې ارادې سره چې په نامناسبه طريقه د يو کس په فيصله اثر وکړي، منع کوي. همدارنګه، د دې معنا دا هم ده چې د ASSA ABLOY کار کوونکي د هر ډول قيمتي شيانو قبلولو نه منع شوي دي که چېرې په دې اراده وي چې په فيصله سازی نامناسبه اثر وکړي.

د ASSA ABLOY د انټي کرپشن په هکله کليدي پېغامونو کښې د نورو سره سم دا هم شامل دي:

**تفريح او ډالۍ**

تفريح او ډالۍ - که ورکولی کيږي يا قبليږي - به په قيمت کښې محدود وي، د قانوني کاروبار د مقصد دپاره به وي، په ښه ډول به ريکارډ شوي وي، او مناسب به وي. د اخيستلو او خرڅولو اقدامات به په ډېره زياته ايمانداری سره کيږي. د ډېر زيات احتياط سره، ډالۍ او د معمولي قيمت تفريح قبلېدلے شي د هغه انتظاماتو نه علاوه چې په غېر مناسب ډول د کاروباري راکړه ورکړه په نتيجه اثر کوي. د هغه کارونو نه ځان وساتئ چې د غېر مناسب والي شک پرې کيږي. په خاص طور، د هغه خرچې چې سرکاري افسران يا عوامي افسران يا نوکران، سياستدانان، يا نور عوامي خلک يا تنظيمونه پکې شامل وي به سخته څارنه کيږي. په ډېرو ملکونو کښې سرکاري يا عوامي خلکو ته تفريح، ډالۍ او خرچې ورکول غېر قانوني دي.

**تجارتي نماينده ګان**

ASSA ABLOY د کاروباري پارټنرانو د غلط کارونو دپاره ذمه وار دي چې د ASSA ABLOY سره بوخت دي يا د هغوي دپاره يا د هغو په ځاے کار کوي. ځکه دا لازم دي په احتياط سره وکتل شي او يواځې د قانوني کاروباري مقصد دپاره د نزدې په کاروباري ډول معقول شرايطو استعمال شي. هغه کسان، چې د ASSA ABLOY سره بوخت دي يا د هغوی دپاره کار کوي، به خامخا د ASSA ABLOY د کاروباري ملګري د چلند اصولو سره موافقت کوي.

**رعايت، کمونه، کميشنز او بونسې**

په نرخ کښې ډېر زيات رعايت او تلافي د رشوت د ملاتړ دپاره استعمالېدلے شي. د دې انتظاماتو شرايط به خامخا په ليکلې شکل کښې وي او لازم دي چې په تجارتي ډول به معقول وي.

**د آسانتيا پېسې ادا کول**

ASSA ABLOY تش په نامه آسانتيا او رشوت نه ادا کوي.

**سياسی شراکتونه**

ASSA ABLOY سياسي شراکتونه کښې شرکت نه کوي. په سياست کښې شخصي برخه اخيستلو، په شمول د خيراتي پېسې ورکولو، کښې به د ASSA ABLOY فنډز، وخت، سامان، سهوليات، بريندډ يا نوم نه استعمالېږي.

**خیریه مرستې او سپانسرشپ**
ASSA ABLOY د خیریه ګروپونو د قانوني مقصد دپاره مرسته کوي. خیراتي پېسې به د ټولنې د فایدې دپاره وي او په داسې ډول به وي چې کاروباري ټولینیزه ذمه داري څرګندوي. همدارنګه ASSA ABLOY خیریه حصه داري یا سپانسرشپ د رشوت په بهانه نه استعمالوي.

د اضافي لارښوونو دپاره د ASSA ABLOY انټرانټ د موافقت برخه وګورئ.

## 1.6 ریکارډز او رپورټونه
د ASSA ABLOY د ریکارډ ساتلو او رپورټ سیستم ایمانداري ډېره زیاته اهمه ده. کارکوونکې به ډېر زیات خیال ساتي چې یقیني کړي چې ریکارډونه په صحیح او مکمل ډول جوړ شوي او بیا کتل شوي وي، که دا د دننه استعمال دپاره وي او که د بهر.

## 1.7 د ګټو ټکر

د کمپنۍ او کارکوونکو ترمنځ د ګټو ټکر نه لازم دي ډډه وکړے شي. که چيري داسي کومه ستونزه وي يا دا اندېښنه وي چې مخې ته راتللی شي، کار کوونکي دپاره لازم دي چې په ليکلي شکل کښې کمپنۍ ته خبر ورکړي او د خپل نزدي منيجر سره پرې بحث وکړي. د ګټو ټکر تعلق سره د نورو د لانديدنو سره دی:

- بهرني تجارتي سرګرمیانې
- شخصي مالي فايدې
- داخلي معلومات
- د کورنۍ خلک او نزدې شخصي دوستان په نوکرۍ اخيستل، د هغوي نه اخيستل يا په هغوي خرڅول

## 1.8 محرم معلومات

هر هغه معلومات کوم چې که چېرې افشاء کړی شي نو د ASSA ABLOY د مقابلې دپاره ضرر رسونکي وي، به محرم ګڼل کيږي او يواځې هغه کس ته به افشاء کيږي چې د کار کولو دپاره دغه معلوماتو ته ضرورت لري.

## 1.9 پيټنټس، تجارتي نخښې او د چاپ حقونه

ASSA ABLOY پوهيږي چې د دې برېنډ او تجارتي نخښې ډېر زيات قيمتي دي. هر ډول نوي ايجادونه، پروسيسيز، د تصنيف کارونه، دټيکنالوجي پرمختګ يا د کاروباري مسلو ناشنا حلونه چې د ASSA ABLOY سره د کار کولو په دوران کښې شوي وي به د ASSA ABLOY ملکيت وي.

### 1.10 کمپیوټر سافټویر

ASSA ABLOY د کمپیوټر پروګرام د چاپ حقونو درناوی کوي او د کمپیوټر سافټوئیر د استعمال متعلق د لاګو کېدو وړ قانون سره موافقت کوي او د ټولو کار کوونکو نه امید لري چې د لاګو کېدو وړ قوانین او ضوابطو ته غاړه کیږدي او، د مثال په طور، هیڅ یو پروګرام د هغه وخته پورې کاپي نه کړي تر څو چې لائیسنس مخصوص اجازه نه ورکوي.

### 1.11 د بهر لېږلو کنټرول ضابطې

د لاګو کېدو وړ د بهر لېږلو د کنټرول ضابطو (Export Control Regulations) سره موافقت د ASSA ABLOY دپاره ډېر اهم دی ځکه چې د دې ضابطو مقصد اکثر هغه سرګرمیانې محدودول وي د کومو چې ASSA ABLOY ملاتړ نه کوي، د مثال په طور، دهشت ګردي.

په دې اړه نوري لارښوونې د موافقت د برخې لاندې په ASSA ABLOY انټرنیټ کتلی شئ.

# 2. پیغام رسول

## 2.1 عمومي

د ASSA ABLOY دپاره هر ډول پیغام رسول، سربېره له دې چې د پیغام رسولو کومه وسیله استعمال شوې، به خامخه د ASSA ABLOY د کاروباري اقدارو او پالیسیانو سره په برابري کېدنې وي. د ASSA ABLOY کارکوونکي به همیشه پېشه ور، ایماندار او رښتوني وي او په خبرو اترو کښې به د محرمیت خیال ساتي. حساس یا محرم کاروباري معلومات به هیڅکله نه بیانیږي یا شائع کیږي. د اضافي لارښوونو دپاره د ASSA ABLOY د بهرني افشاء کولو پالیسي، د دننه خبررسانۍ پالیسي او د عالمي خبر رسانۍ پالیسي د ASSA ABLOY په انټرانیټ وګورئ.

## 2.2 د برېښنایي پیغام مراسله او د انټرنیټ استعمال

د برېښنايي پيغام مراسلې سره به د موادو، رسمي ژبې او اسنادو سنبالولو متعلق د نور لیکلي کاروباري مراسلو په ډول معامله کیږي. د کمپنۍ د پیغام رسولو خدمت او انټرنیټ فنکشنز به یواځې د کمپنۍ د مقاصدو دپاره استعمالیږي او دغه رنګه ټول لېږل رالېږل د کمپنۍ ملکیت دی. په ډېرو ملکونو کښې ASSA ABLOY قانوني طور ذمه وار دې چې د دې اوزارو د نامناسبه استعمال نه د خپل ځان او کار کوونکو حفاظت وکړي. نو ځکه د ASSA ABLOY د ایمیل او انټرنیټ استعمال د څارنې حق لري.

## 2.3 ټلیفوني خبرې اترې

د ASSA ABLOY د ټلیفوني کالز څارنه نه کوي، تر څو چې دا د یو مخصوص مقصد دپاره نه وي لکه ټریننګ. د څارنې په هر کیس کښې به د کمپنۍ او کار کوونکي ترمنځه موافقت موجود وي. هرې دریم ګډې ډلې ته به د مخکښې نه د څارنې متعلق خبر ورکولے کیږي.

# 3. بشري حقونه او د مزدورانو معيارونه

## 3.1 د ماشومانو مشقت

ASSA ABLOY د ماشوم نه مشقت اخیستل نه قبلوي. ASSA ABLOY د هر ماشوم حق پیژني چې د معاشي غلطې فایدې اخیستلو او هغه کارونو نه چې په امکاني طور د هغوي د بدني، ذهني یا روحي صحت دپاره خطرناک وي، د هغو د اخلاقي یا ټولنیز پرمختګ دپاره نقصاني وي، یا د تعلیم کولو په لاره کښې رکاوټ جوړیږي، نه د هغوي حفاظت وکړي.

په دې برخه کښې ماشوم هغه شخص دے چې عمر یې د 15 کالو نه ښکته وي، او یا په استثنایي صورت کښې د پرمختګ کوونکو هیوادونو دپاره 14 کاله وي لکه څرنګه چې د ILO د کم نه کم عمر د کنوینشن نمبر 138 په ارټیکل 2.4 کښې ښوول شوي دي. که چېرې په قومي قانون کښې زیات عمر وي، نو دغه عمر به منلے کیږي.

ځینې هیوادونه د "تنکي ځوانانو" تعریف په هغه کسانو لاګو کوي چې د کم نه کم عمر نه یې عمر زیات وي، چې معنا یې دا ده چې دغلته کېدے شي دوي ته د کوم کار کولو اجازت وي په هغه قانوني قیدونه وي.

## 3.2 د جبر یا بند کار

ASSA ABLOY د جبر یا بند کار، جیلیان یا غیر قانوني مزدوران نه په کار اخلي او نه یې قبلوي. ټول کارکوونکي حق لري چې د خپل کار د ځاے یا اوسېدو د ځاے نه (که چېرې ورکړل شوے وي) په هغه وختونو کښې په آزادۍ سره ووځي کله چې کار نه کوي.

### 3.3 د ایسوسي ایشن او اجتماعي لېن دېن آزادي

د ASSA ABLOY کارکوونکې آزادي لري چې د خپلې خوښې په یو ایسوسي ایشن کښې برخه واخلي یا یې وانخلي، یا د خپلې مرضۍ یو ایسوسي ایشن جوړ کړي، د ملکي قانون سره سم انتظام وکړي او اجتماعي یا یوازې لېن دېن وکړي. د دې حقونو د عملي کولو دپاره هیڅ یو کارکوونکی لره لازم نه دي چې وځورول شي یا د خطره واخلي.

### 3.4 د کارکوونکو قراردادونه، کاري ګهنټې او معاوضه

ASSA ABLOY د کار کوونکو د قراردادونو او کاري ګهنټو، په شمول د اوورټایم او اوورټایم د معاوضې په حقله د مقامي قانون سره موافقت کوي. تنخا به خامخه د مقامي قانون او مقامي مارکیټ د حالاتو سره موافقت کوي او وخت په وخت به ادا کیږي. کارکوونکي په 7 ورځو کښې زیات نه زیات د یوې ورځې رخصت حق لري او لازمي ده چې د قومي او علاقايي رخصتونو دپاره رخصت واخلي. کارکوونکو ته به مقرر شوې کلیزه رخصتي، د بیمارۍ رخصتي او د امېدوارۍ/یا پلاروالۍ رخصت د کوم منفي نتیجو نه بغېر ورکولے کیږي.

### 3.5 امتیازي سلوک، ځورول او تنوع

ASSA ABLOY د تنوع او جنسي مساواتو قدر کوي او وده ورکوي. ASSA ABLOY یو داسې کاري ماحول وړاندې کوي چې د هر یو کس سره پکې د عزت او درناوي سلوک کیږي او د پرمختګ بنه او د انصاف موقع ورکولے کیږي. د دغې وجې ASSA ABLOY د کار په ځاے کښې د نسل، نژاد،، جنسي تمایل، جنس، مذهب، عمر، معزورۍ، سیاسي سوچ، قومیت یا یو بل پټ د ممتاز عامل په اساس هر ډول امتیازي سلوک او ځورول نه برداشت کوي.

### 3.6 نوکري او طبي ریکارډونه

د نوکرۍ او طبي ریکارډونه خوندي ساتلے کیږي او هیڅ یو کس ته به نه څرګندول کیږي تر څو چې قانون داسې کول نه غواړي یا د متعلقه نوکر نه په لیکلي شکل کښې اجازه نه وي اخیستل شوي. د کارکوونکو طبي ریکارډونه د نوکرانو د نور ریکارډ نه جدا په یوه قلپ المارۍ یا دغه رنګه بل ځاے کښې ایښودلے کیږي.

### 3,7 د شرابو او/یا نورو نشیي شیانو غلط استعمال

ASSA ABLOY د مخکښې نه د کاري ماحول نه هر ډول خطرناک شیان لرې کوي. کارکوونکي به چیرې هم د شرابو په نشه کښې، یا داسې حال کښې چې د شرابو منفي اثر پرې د هغه حده پورې وي چې د کار کوونکي د کار کولو په قابلیت یې اثر کړے وي. د کار په ځاے کښې یا د کمپنۍ په چاردیوارۍ کښې دننه نه وي. ASSA ABLOY د نشه یي شیانو دپاره هیڅ برداشت نه لري او خپلو کارکوونکو ته اجازه نه ورکوي چې د شرابو په نشه کښې د کار په ځاے کښې وي یا د کمپنۍ په چاردېوارۍ کښې وي.

### 3.8 د ګاهک دلچسپي

ASSA ABLOY یقیني کوي چې د پېداوار او خدمتونو دپاره د لاګو کېدو وړ د صحت او حفاظت لوازمات پوره شوي وي او د مناسب وسیلو په ذریعه د پېداوار او خدمتونو په حقله متعلقه معلومات چاپ شوي وي.

### 3.9 ټولني ته رسېدل

د ASSA ABLOY مقصد د یو ښه کاروباري شهري په طور عمل کول دي کله چې دوي معاملات کوي او د مقامي، علاقائي او عالمي ټولنو مرسته په مناسب ډول کوي.

# 4. ماحول

## 4.1 ماحول او پایښت

ASSA ABLOY به قانوني ماحولیاتي لوازمات پوره کوي او د خپلو ټولو یونټو نه دا تمه لري چې ماحولیاتي اجازې او لائیسنسونه واخلي کوم چې د هغوي د کار دپاره ضروري وي. د ټولو کار کوونکو نه توقع کیږي چې د ASSA ABLOY د ماحولیاتي کارکردګی ملاتړ وکړي او د دې ذمه واري واخلي. ASSA ABLOY د ماحول دوست ټیکنالوجی پرمختګ او پراختیا ته داډګیرنه ورکوي.
ASSA ABLOY هغه ټولو یونټو نه غوښتنه کوي چې پراخه ماحولیاتي اثر لري چې مؤثر د ماحولیاتي انتظام سسټم په کار راولي.

ASSA ABLOY مسلسل کوشش کوي چې د وسایلو استعمال کم کړي، په شمول د انرژی، ګند او اوبو، د الودګی مخنیوے وکړي، شور د قبلېدو وړ لیول ته راښکته کړي او د خپلو عملیاتو او تولیداتو ماحولیاتي اثرات د بنه والي زیاتولو سره یوځاے بند کړي. په ټول کیمیاوی او خطرناک موادو به مناسب نښانونه لګولے کیږي او محفوظ به ساتلے کیږي، او ریسائیکل کیږي، بیا استعمالیږي او په مناسب ډول ځاے ته رسول کیږي. د خطرناک موادو د استعمال په حقله د اضافي لاربنوونو دپاره د ASSA ABLOY انټرانټ وګورئ.

# 5. صحت او حفاظت

## 5.1 کاري ماحول

ASSA ABLOY د صحت او حفاظت سره په منظم ډول کار کوي او پخه اراده لري چې يو محفوظ کاري ماحول وړاندې کړي. هغه خطرات چې د حادثې سبب جوړيدے شي يا زمونږ د کار کوونکو په صحت او ښه والي اثر کولے شي به کمولے کيږي. نو ځکه، د پيشه ور صحت او حفاظت خطرے په ګوته کيږي، ارزول کيږي او تر ټولو مخکښې يې د خطرې ختمولو د پروسس، انجينيرنګ کنټرول او/ياانتظامي کنټرول د لارې انتظام کيږي.

په محفوظ کاري ماحول کښې هغه وسيلې شامل دي، د مثال په طور، چې د کار ځايونه پاک او د الودګی نه آزاد ساتلے کيږي، په توليداتو کښې استعمالېدونکي مشينان محفوظ وي او د ملازمېنو صحت ته خطره نه جوړوي، او د شخصي حفاظت او کار د اوزارو په حقله ښوونې په کار راوستلے کيږي. همدرانګه په کاري ماحول کښې به ښه رڼا وي او د درجه حرارت او شور درجې به د قبلېدو وړ وي. که چيرې د شور سطحه د قبوليدو وړ نه وي نو حفاظتي اوزار لکه د غوږونو د حفاظت الات به استعماليږي. په ټولو يونټو کښې به د نارينو او زنانو دپاره به د کپړو بدلولو جدا د کپړو بدلولو ځايونه، غسل خانې او ټوايلټې ځايونه، غسل خانې او ټوايلټې موجود وي. ASSA ABLOY ته راتلونکو ته به زمونږ د صحت او حفاظت د اصولو په حقله معلومات ورکولے کيږي کله چې زمونږ سهوليات ويني.

د ASSA ABLOY ټیکه داران د خپل حفاظت پخپله ذمه وار دي. خو بیا هم ASSA ABLOY د ټیکه دارانو نه غوښته کوي چې د ASSA ABLOY د حفاظت په پروسس کښې برخه واخلي او د خطرې د مختلف حالتونو دپاره پلان جوړ کړي. هغه ټیکه داران چې معلوم کړې چې د صحت او حفاظت پریکټسس د ASSA ABLOY د محفوظ کاري ماحول د اصولو سره برابر نه دي هغوي ته حوصله ورکولے کیږي چې خپلې اندېښنې ښکاره کړي.

ASSA ABLOY به د ښه کاري حالاتو دپاره کار کوي او ټول کار کوونکي هڅوي چې خپل تر ټولو ښه کار وکړي.

## 5.2 ودانۍ او د اور نه حفاظت

خطرناک مواد او اوزار به خامخه د لاګو کېدو وړ اصولو او پالیسۍ مطابق سټور کیږي. د ایمرجنسي په صورت کښې وتلو په لارو به ښکاره نشانونه لګولے شوي وي. د وتلو لارې به آزادې او په ښه ډول روښانه وي. ټولو ملازمینو لره پکار دي چې د حفاظتي انتظاماتو لکه د ایمرجنسي وتلو لارې، اور وژونکي، د ابتدايي طبي امداد اوزارو وغېره په حقله معلومات ترلاسه کړي. د بلډنګ په هر چت کښې به د (بلډنګ) خالي کولو پلان لګېدلے وي. د اور لګېدو ګهنټې پکار ده تسټ کړے شي او د خالي کولو ډرل به په منظم ډول کیږي.

### 5.3 ابتدايي طبي امداد او طبي پاملرنه

د ابتدايي طبي امداد اوزار به خامخه په يو مناسب ځاے کښې موجود وي، او لازم دي په هر ځاے کښې کم نه کم يو کس ته د اساسي ابتدايي طبي امداد په حقله تربيت ورکړلے شي. په ملکيت کښې دننه د حادثې په صورت کښې که ضروري وي نو يو ډاکټر يا نرسې سره رابطه کول پکار دي. کمپنۍ لره لازم دي چې په ملکيت کښې دننه د لګېدلي زخمونو د طبي پاملرنې پېسې ادا کړي که دغه د ټولنيز خونديتوب يا بيمې د طرفه نه ادا کېږي، په دې شرط که د حفاظت د اصولو نه انحراف نه وي شوے.

# ضميمه ا: د موافقت نه کولو رپورټ

زه د هغه حالاتو نه خبر يم کوم چې د ASSA ABLOY د چلند اصولو سره موافقت نه کوي.

**د چلند اصولو لاندې د امکاني يا حقيقي اختلاف تشريح:**

**نوم او د اړيکې معلومات (اختياري):**

مهرباني وکړئ دا رپورټ وليږئ:
Code of Conduct function
ASSA ABLOY AB
Box 70340
SE-107 23 اسټاکولم، سويډن
يا دلته:
code@assaabloy.com

ASSA ABLOY ستاسې د شخصي معلوماتو د حفاظت کولو وعده کوي. د چلند په اصولو کښې - د محرميت نوټس (کوم چې تاسې موندلے شئ په *https://www.assaabloy.com/en/com/menu/code-of-conduct-privacy-notice/*) کښې تاسې لوستلی شئ چې د ASSA ABLOY د شخصي معلومات څرنګه پروسس کوي او استعمالوي کوم چې موږ د چلند د اصولو د اندېښنو سره مربوط ترلاسه کو او تاسې څرنګه زمونږ سره رابطه کولی شئ که چېرې د خپل شخصي معلوماتو د پروسس کولو په حقله اضافي سوالونه لرئ.

ASSA ABLOY

ASSA ABLOY ګروپ د لاسرسي په
حل کولو کښې عالمي رهبر دی.
مونږ هره ورځ د خلکو مدد کوو چې
خوندي، محفوظ احساس وکړي او د
يوې زياتې آزادې دنيا تجربه وکړي.


**ASSA ABLOY AB (پاچ)**
**پوسټل ادرس:**
P.O. Box 70340
SE-107 23 Stockholm
**فزيکي پته:**
Klarabergsviadukten 90
**ټيليفون:** +46(0)8 506 485 00

**فکس:** +46(0)8 506 485 85
**الرقم المسجل:**
SE.556059-3575
**رجسټر شوے دفتر:**
**سټاک هوم، سويډن**
assaabloy.com



© 2018


پښتو/PASHTO